دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلنه واوریده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منله وکړي او له الله نـه ودار شي او له سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرمانی کند، در حقیقت، امتناع ورزیده است». (صحیح البخاری)

شهادت شپږم کال، ۳۷ مه ګڼه، پرله پسې ۲۸۱ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لیندی ۲۵ مه د ۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۲۳ مه د۲۰۱۴ م د دسمبر ۱۲ مه

ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان در جمع غفیری از خبره گان بخش تعلیمی و تربیوی فرمودند:

آرزومندیم تا تمام جوانان ما به زیور علم و دانش آراسته گردند

شهادت، کابل:
عبدالهادی ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان در نشست جمع کثیری از آموزگاران، دانش آموزان، و اهل خبره که روز یکشنبه مؤرخ (۲۳ قوس ۱۳۹۳) در دفتر مرکزی حزب اسلامی افغانستان تدویر یافته بود، پیرامون اهمیت تعلیم و تربیه نوجوانان و جوانان کشور صحبت عالمانه و همه جانبه نمودند.
رییس حزب اسلامی افغانستان فراگیری علم ودانش را برای جوانان که آینسده سازان کشور اند، یک امر ضروری پنداشته و جوانان را به فراگیری تعلیمات اسلامی و فرآورده های تکنالوجی معاصر که نیاز مبرم جامعه ما است، تشویق نمودند.
همچنان ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان خطاب به مسوولان مکاتب فرمودند: «تاسیس مکاتب آغاز یک تجربه جدید بود، امید است جوانان ما مطابق ایجابات عصر آموزش ببینند، مکاتب ما باید در زمره سایر مکتب ها، مکاتب نمونه باشند مانند مکاتب افغان- ترک که فعلا در سطح افغانستان مکتب نمونه است، مکاتب ما هم باید همان طوریکه از نظر کمیت در سطح بلند قرار دارد از نگاه کیفیت نیز در سطح معارف کشور، مکاتب نمونه باشد».
رییس حزب اسلامی افغانستان اضافه کردند: قلبا آرزو دارم که مکاتب ما... (ص، ۴)

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال محترم انجنیر محمدخان د شهادت اونیزې سره په مرکه کې:

زه خپل ولس ته ډاډ ورکوم چې ډېر ژر به په کار پوه او تجربه لرونکي کسان په دندو وګمارل شي

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمدخان له حبیب الرحمن ابراهیمي سره په مرکه کې

ولسمشر او اجرائیه رییس ټولو نړیوالو ته وښودله چې له نړی‌والو سره د متقابله احترام پـر روحیه اړیکي غواړي

شهادت ، کابل:
پوښتنه: د ملي یووالي حکومت له پیل نه تر ننه پورې چې له دوو میاشتو څوورخې تیرېږي د ملي وحدت دحکومت عمده لاسته راوړني څه دي؟
ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم ، خوشحاله یم چې د شهادت اونیزې له استازي سره مرکه کوم ، شهادت هفه اونیزه ده چې د افغانستان دتیر انقلاب په اوږدو او... (۳ مخ)

امریکا ته د افغانستان جګړه په یو تریلیون او ۱۰۰ ملیارد ډالره تمامه شوې

کابل، رسنی:
له هغه راپور سره سم، چې د دوشنبې په ورځ خپور شو، د افغانستان جګړه د امریکا د متحدو ایالاتو لپاره په څه باندې یو تریلیون یعنې زر ملیارد ډالره تمامه شوې ده.
فینشل ټایمز ورځپاڼې او خپلواکو څېړونکو د افغانستان د جګړې لګښت سنجولی دی.
راپور وايي، د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې له تروریستي بریدونو وروسته د امریکا کانګریس د دغه هېواد د فدرالي حکومت د مالي کلونو لپاره د افغانستان د جګړې په خاطر د یو تریلیون او ۱۰۰ ملیارد ډالرو لایحې تصویب کړې دي.
خو سره له دې چې د افغانستان جګړه د عراق تر هغې اوږده وه، امریکا په عراق کې لا زیات مصرف کړی دی. ... (۳ مخ)

تحقیق محکمه بین‌المللی در باره صدها مورد شکنجه توسط سربازان بریتانیایی در عراق

محکمه جزایی بین‌المللی اخیرا اعلام کرد تحقیقاتی را درباره صد ها دوسیه جدید شکنجه که توسط سربازان بریتانیایی در عراق صورت گرفته، انجام می‌دهد. در این دوسیه های جدید، روش های خشن بازجویی و اعتراف گیری مورد استفاده نیروهای بریتانیایی در عراق بین سال های ۲۰۰۳ تا ۲۰۰۸ توسط محکمه جزایی... (ص، ۳)

کابینهٔ آینده و وزرای دو تابعیتهٔ احتمالی

ف، فایض

روز شنبهٔ گذشته مورخ ۲۲/۹/۱۳۹۳ ولسي جرگه فیصله نمود که باید کابینهٔ آیندهٔ افغانستان دارای وزرای دو تابعیته نباشد. البته این فیصلهٔ ولسي جرگه ریشه در قانون اساسی کشور نیز دارد ؛ اما از روزی که قانون اساسی توشیح شده است خیلی از مواد قانون اساسي نادیده گرفته شده و این یگانه مورد نیست.
اگر از حقایق چشم پوشی نه کنیم ، درکابینه های گذشته وزرایی که از کشور های غربی چه امریکا ، چه اروپا و کانادا یا هم از کشور های دیگر مانند استرالیا و امثال آن آمده بودند . علی الاکثر و شاید همه دارای تابعیت دوگانه بودند ؛ ولي در مورد نامزدی شان بحیث وزیر درکابینهٔ افغانستان ، حکم قانون نادیده گرفته شده و یا دولت وقت در مورد تقرر شان ... (ص، ۳)

هېوال:

د کابل بانک پورونه به ډېر ژر واخیستل شي

کابل، رسنی:
د افغانستان بانک چارواکي وايي، د کابل بانک له پور وړونکو څخه یې تر اوسه شاوخوا شپږسوه میلیونه ډالره ترلاسه کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د جمهور رئیس اشرف غني په حکم د دې بانک د پوروړونو تر لاسه کولو ته نوې هڅې هم ترسره شوې.
د افغانستان بانک چارواکو دا هم وویل، کورنیو او بهرنیو سیاسي مداخلو کابل بانک بدنام کړاو که نه نو، دا پورونه په عادي هڅو هم ترلاسه کیدلای شول.
د افغانستان بانک مسوولین هیله مند دي چې د معقولو اقداماتو په اساس به د کابل بانک ټول پورونه ترلاسه شي.
دا خبره د دې بانک سرپرست خان افضل هډوال د دوشنبې په ورځ په کابل کې د جمهور رییس اشرف غني له خوا د افغانستان بانک د رییس نوراله دلاوري د تقاعد د منظورېدو په مقصد په جوړې ناسته کې وکړه.
ده وویل، د کابل بانک ټول پوروړي که په هېواد کې دننه دي او که بهر، په ګوته شوي او پورونه به ځینې واخستل شي:
«حکومت چې د سهم لرونکو په وړاندې مسوولیت لري اته پنځه وشت میلیونه ډالر دي، دا دولت ورکړي دي او بېرته باید ترلاسه شي
په دې لړ حکومت د پوروړو نقدي پیسې او جایدادونه ترلاسه کړي چې اندازه یې د پورېنځوس فیصدو ته رسیږي»
له دوه زره لومړي کال وروسته کابل بانک په افغانستان کې د یوه لوی خصوصي بانک په توګه فعالیت پیل کړ، خو په دوه زره لسم میلادي کال کې له مالي بحران سره مخ شو. ... (۴ مخ)

شکنجه های "سیا" دلیلی برای خروج فرانسه از ناتو

رییس حزب جبهه ملی فرانسه در اظهاراتی با اشاره به گزارش کانگرس امریکا درباره شکنجه های سازمان سیا، اظهار کرد داشت که این شکنجه ها دلیلی موجه یی است تا فرانسه از ناتو خارج شود.
"ماری لوپن " با اعلام این موضوع در تویتر اظهار داشت: از آنجایی که هر شخص با خواندن گزارش شکنجه های سیا عصبانی میشود، پس بهتر است که فرانسه از سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) خارج شود.
سازمان استخباراتی امریکا اخیرا گزارشی را درمورد اقدامات سازمان سیا برای شکنجه افراد متهم به فعالیت های تروریستی منتشر کرد. اوباما رییس جمهور امریکا در واکنش به صدور این گزارش درباره اقدامات سیا در شکنجه متهمان، ازسازمان جاسوسی کشورش انتقاد کرد. اوباما شیوه های شکنجه سیا را خلاف قوانین موجود در امریکا دانسته است.
گزارش سنا علاوه بر تشریح جزییات شیوه های جنجالی سی آی‌ای برای کسب اطلاعات از مظنونان تروریستی، تاکید کرد که این شیوه ها به نتایج مفیدی منجر نشده است.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د نا امنیو کابو کول بېړني اقدام غواړي

دا سهی ده چې د کابینی په تشکیل کې باید لازم احتیاط وشي او کابینه له داسې متدینو، ژمنو او متخصصو کسانونه تشکیل شي چې هم تېرې نیمګړتیاوې تلافي کړای شي او هم هر وزیر په خپله برخه کې د نوښتونو خاوند وي. که څه هم موږ په تېره کابینه کې هم وړ کسان درلودل، خو لکه چې وايي دوچو له زوره لانده هم سوځي، دغه وړ وزیران هم دنورو دناسمو اجراآتو په دوړو کې ورک شول چې دا دخواشینی خبره ده؟ خو دکابینی دومره ځنډول به هم په دې پلمه چې نوی دولت دیوې وړ کابینې دجوړولو په لټه کې دی دمنلو وړنه وي؛ ځکه موږ ګورو چې زموږ په هېواد کې ننګونې ورځ تر بلې زیاتیږي او زور اخلي.

زموږ د ټولو ننګونو په سرکې چې ټول هېواد یې پرسراخستی دنا امنی ننګونه ده؛ ځکه هره ورځ یوه، دوه، درې یا څو پیښې رامنځ ته کیږي. له تیرو څو ورځو راهیسې په ځانګړې توګه د ملي اردو منسوبین په نښه کیږي او هره ورځ د کابل ښار په یوه څنډه کې د وینو لښتې روان وي او سرک په وینو سور شوی وي چې بیا اطفائیه یا ښاروالي یا نور راځي، د هغوی وینې پاکوي، دا حالت بې له شکه دېربورنوونکی دی.

ولسمشر وايي چې موږ ددغه حالت دختمولو له پاره د اساسي لارو چارو په لټه کې یو، دا ښه خبره ده او موږ یې هرکلی کوو او دعا موده چې دولت دغسې یوه تګلاره وموندلای شي چې نور له هره کوره، هرې کوڅې او دښار له هره واټه دساندو، ویرونو او سلګیو اوازونه، نه اورو؛ خو زموږ اوسنی حالت ددغه وضعیت د کابو کولو له پاره د بېړنیو اقداماتو غوښتنه کوي؛ ځکه وايې: تا تریاق از عراق برسد، مارګزیده هلاک شود. ترهغې پورې چې دولت د اوسنیو ناامنیو دمخنیوي او دجنګ دختاتمې له پاره یوه اغیزمنه لار پیدا کوي، موږ به هره ورځ ددغسې بوږنوونکو پیښو شاهدان یو. دولت باید د امنیت د تأمین له پاره هم لنډ مهالي او عاجل پلانونه ولري، هم منځ مهالي او هم اوږدمهالي. اوس سمدلاسه موږ بېړنیو اقداماتو ته اړتیا لرو. ښایي د اوسنیو نا امنیو یو لامل داهم وي چې دا دی تقریباً د درې میاشتو په تیریدو سره کابینه تشکیل نه شوه. دولت که د کابینې د تشکیل د ځنډولو په اړه هر عذر لري؛ خو ولس ته نور دغومره ځنډ چې امنیتی وضع مو دومره وننګولای شي دمنلونه ده، هغه پر اقتصادي او نورو اړخونو منفي اغیز خوېي لا پرځای پریږده چې دخلکو ژوند خوندي نه دی. پښتانه وايي: ((چې پرماشوه دنیا تیره؛ خدای دې نه کړي دنیا ډېره)) کله چې زموږ ژوند هره ورځ له دغسې ګواښونو سره مخ وي، بیا نو چې خدای مه کړه هره کورنۍ دویر پرټغره کښیناسته بیا که امن راځي زموږ کوم درد به دواکړي نو؛ ((علاج واقعه قبل از وقوع باید کرد)).

دولت باید دامنیتی ادارو مسؤولین پردې وګوماري او له هغو متخصصو افرادونه چې یا تقاعدته سوق کړای شوي دي او یا په احتیاط کې وظیفه سرته رسوي هم په دې برخه کې مرسته وغواړي چې یو داسې بېړنی پلان جوړ کړي چې د اوسنیو بریدونه مخه پرې ونیولای شي، موږ فکرکوو چې هېڅ، باضمیره افغان به دهیواد او هېوادوالو د ژغورنې په لار کې خپل قابلیت ونه سپموي.

نصرالله

پر پنځه زره کلن تاریخ کله ویاړ؟

په دی کې هیڅ شک نشته چې موږ پنځه زره کلن تاریخ لرو او دنړی هیوادونه له موږ سره دپنځه زره کلن تاریخ په سر په جګړه بوخت نه دي، بلکې ټولې نړۍ زموږ پنځه زره کلن تاریخ منلې او هیڅ بحث وربانديې نه لري؛ خو پوښتنه داده چې زموږ دا تیر پنځه زره کلن تاریخ زموږ دفعلي ژوند کوم درد دواکولای شي؟ ایا سلطان محمود غزنوي بیرته ژوندی کیږي او که احمد شاه ابدالي؟ آیا شهاب الدین غوري دجګړې میدان ته وردانګي او که میرویس نیکه؟ څرګنده خبره ده چې زموږ تیر تاریخ او زموږ تیر اتلان دتاریخ یو روښانه باب ګرځیدلي دي، نه تیر تاریخ واپس کیدلای شي او نه تیر اتلان چې موږ له دی حالت نه وژغوري. زموږ مسؤولیت دانه دی چې خپل وروسته پاتې والي او غفلت پرخپل پنځه زره کلن تاریخ باندي په فخرکولو سره دجبران کولو خندوونکی هڅه وکړو او خپل دښمنان یوازې په دی خبره وویروو چې موږ پنځه زره کلن تاریخ لرو او پنځه زره کاله نورهم ژوندي پاتې کیدلای شوو. زمانه پردریو برخو ویشل شوی، ماضي حال، او مستقبل، ماضي واپس نه ګرځي او مستقبل له حال سره تړل شوی، هغه ملت چې د خپل ښه حال په جوړولو قادر نشي د ښه مستقبل داد نشي ورکولای. حال د مستقبل بنسټ دی، که یو ملت پخپل فعلي ژوند کې څه لاسته راوړنه ونه لري په هیڅ صورت د روښان مستقبل ضمانت نشي ورکولای.

یو دهقان هله خپلې کورنۍ ته د راتلونکی کال د خوراک څښاک دخودکفایې داډ ورکولای شی چې عملاً دهقاني کوي او غلې دانې یې ذخیره کړي وي.

سهی ده چې موږ پنځه زره کلن تاریخ لرو؛ خو دیته هم کتل پکاردي چې فعلاً د ژوند په ټولو ډګرونو کې دخپلو دښمنانو پرخلاف څه لرو چې دسیالۍ چلنج ورته ورکړو؟

دښمن، نه زموږ پنځه زره کلن تاریخ ته ګوري او نه هم زموږ دا تیر پنځه زره کلنه سابقه دهغه په وړاندی اوسپنیز دیوالونه جوړولای شي؛ بلکې هغه زموږ فعلي ژوند ته ګوري چې په کوم حالت کې قرار لرو؟ لاسونه مو ډک دي او که تش، په مټوکې مو طاقت شته او که نه؟

که بې څواکه او بې وسلو یو: نو دخپل څواک پرځای پخپل پنځه زره کلن تاریخ فخرکول ددښمن پرعزائمو هیڅ منفي اغیزه نشي اچولای.

زموږ دا فخر به هله پرځای و چې د نورو په څیر ډک لاس او غښتلو متو سره دجګړې په ډګرکې ولاړ وای او د خپل پنځه زره کلن تاریخ له ویاړنه ډکه لاسته راوړنه مو ورته ښکاره کړی وای. دا څومره دشرم اوخجالت ځای دی چې څو لسیزې عمر لروونکي هیوادونه له پنځه زره کلن سابقه لرونکي هیواد نه د ژوند په ټولو ډګرونو کې دومره مخکې شوي دي چې زموږ رګونو رګونو ته ننوتې او له پښو موغورځوي، دنړی ګڼ هیوادونه چې د استقلال عمریې دافغانستان دپنځه زره کلن تاریخ مثقال ته هم نه رسیږي نن دخپلو ټولو اړتیاو په ډګرکې خودکفا دي؛ که افغانان تر اوسه دبل چا لاسوته محتاج ناست دي، هغوی فضا، ځمکې او سمندرونه تسخیر کړي او حکمراني وربـانـدي کوي؟ مګر پنځه زره کلن تاریخ لرونکي افغانان لږ ترلږه دګنډلو دستنې پر جوړولو هم نه دي برلاسي شوي. که یو عام سړی ددښمن په مقابل کې دپنځه زره کلن تاریخ لرلو اخطار ورکړي دومره وربانديې بد نه ښکاري: خو چې دهیواد مشران داسې خبرې کوي: نو نه یوازی وربانديې بد ښکاري؛ بلکې خپلو دښمنانوته هم دخپلې کم فکرۍ ثبوت ورکوي.

تاریخ موږ ته دا ثابته کړې چې په دې دنیا کې هرڅه دقاعدې او قانون له مخې پرمخ ځي. دودۍ ترهغه نه پخیږي چې په تنور، داش او تبخي کې بوخ نه کړای شي، بالکل همداسې ددښمن موثره دفاع هم تر هغې نشی کیدلای چې لازم تدابیر ورته ونه نیول شي. د فطرت قانون موږ ته همدا رازده کړي او له دینه سترګې پټول دفطرت له قانون نه مخ اړول دي. کله چې د تیرو قومونو او ملتونو تاریخي اثاروته ګورو، نو په هغو کې هغه جنګي وسائل او سامانونه وینو چې دخپلې دفاع په خاطریې جوړ کړي او دجګړو په ډګرونو کې یې کارولي دي. لوي الله خو مسلمانانوته نږدې یو نیم زرکاله وړاندې پخپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې په څرګندو ټکو امر کړی دی چې ای مؤمنانو! تاسې دخپلو دښمنانو د مقابلې لپاره ترآخرې توانه قوت چمتو کړئ چې داالله دښمنان او خپل دښمنان وربـاندي وویروئ.

د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم ددغه آیت په تفسیرکې فرمایي چې له قوت نه مراد دویشتلو قابلیت ترلاسه کول دی.

مطلب داچی په قرآن کریم کې مسلمانانوته دداسې قوت دترلاسه کولو امر شوی چې دخپلو دښمنانو سنګرونه له لیری ځای نه ترهدف لاندې ونیسي او صفونه یې نابود کړي؛ خو ډیر افسوس چې موږ تراوسه توپک قدرې هم نه دی جوړ کړی. پکار خو داو چې پنځه زره کلن تاریخ لرونکی ملت په توګه مو دنړۍ له نورو ملتونو څخه ډېرمختګ په هرډګرکې سبقت کړی وای او دا مو د عمل په ډګرکې ښودلې وای چې د پنځه زره کلنې تاریخي سابقې ترڅنګ د پرمختګ په ډګرکې له بل هرچانه زیاتې لاسته راوړنې هم لرو، خو ډیر افسوس چې هیڅ نه لرو.

زموږ ټول مشران او کشران باید په دی خبره غور وکړي چې ددښمنانو مقابله په خالي لاپو شاپو نه؛ بلکې دحقایقو او واقعیتونو پرخپلولو کیږي؛ ځکه چې دښمن زموږ، اتفاق، څواک او وسائلوته ګوري نه مو تشو خبرو او پنځه زره کلن تاریخ ته، که زموږ مشران او کشران په واقعي معنا دخپل پنځه زره کلن تاریخ عزت ساتل غواړي؛ نو ددې یواځنۍ لاره داده چې که دخپل استقلال د ساتلو لپاره توپ ټانک او الوتکې نشو جوړولای، لږ ترلږه ښه حکومت، ښه عدالت، ښه اتفاق اوښه همغږي خوراوسنتلای شو، که فی الحال له خپل توانه پورته کارونه نشوکولای دومره قدری خو کولای شو چې داعتماد په فضا کې دملې یووالي دحکومت واقعي تصویر وړاندې، او ژرترژره په بشپړ اتفاق وزیران او والیان وټاکل شي. دا خو په سلوکې سل زموږ د وس کار دی چې د ژوند په ټولو چاروکې له عدالت، دیانت او ایمانداري څخه کار واخلو او په پوره صداقت دخپلې خاورې، عقیدې او ولس خدمت ته ملاوتړو، که داهم نشوکولای او یواځې پرخپل پنځه زره کلن تاریخ ددښمن دویرولو کوښښ کوو، دانو له خپل تاریخي ملت سره له جفا پرته بل هیڅ مفهوم نه لري او زموږ دښه راتلونکي هیڅ ضمانت نشي ورکولای. کوټنکی به ددښمنانو وي او سرونه زموږ، له ژړا، ویر اوفریاد پرته به نور هیڅ نشوکولای، نه به پنځه زره کلنه تاریخي سابقه زموږ دردونه دوا کولای شي او نه هم افغاني غرور؛ بلکې هرڅه به مو تالا ترغه کیږي، لاسونه به مروړو خوله پښیمانی پرته به هیڅ نشوتر لاسه کولای.

کابینهٔ آینده و وزرای دو ...

(ادامه از صفحه اول)

... دلچسپی داشت و یا اینکه فشار دولتهایی که شامل ناتو بودند و یا همکار ناتو در تقرر شان دلچسپی داشته باشند و از دولت ناتوان افغانستان خواسته باشند که شخص مورد نظرشان باید وزیر، معین والی و .... مقرر شود.

البته فراموش نکنیم که بعد از کودتای نامیمون ثور ۱۳۵۷ که مردم ما آهسته آهسته مجبور به ترک وطن شدند و راه هجرت در پیش گرفتند کشور های میزبان این مهاجرین همه در مورد مهاجرین قانون یکسان نداشتند؛ بحیث مثال پاکستان و ایران عمدتاً به مهاجرین تابعیت ندادند. خوب شاید بعضی از مهاجرین افغان از راه های غیر مستقیم تابعیت این کشور ها را بدست آورده باشند که تعداد شان بتناسب احصائیهٔ عمومی مهاجرین خیلی اندک و انگشت شمار است ولی اکثریت قاطع این مهاجرین علاقه هم نداشتند که درصورت شکست روسها و حکومت کمونیستی کابل کشور های همسایه باقی بمانند و یک محبت وعلاقه مندی شدید نسبت به وطن خود داشتند.

اینکه هنوز هم میلیونها افغان درین دوکشور همسایه بسر میبرند، داستان دیگری دارد که همهٔ هموطنان عزیز ما عوامل و دلایل آنرا خوبتر میدانند. جنگهای داخلی و بعداً جنگهای تحمیلی و درکل نبود امنیت، بیکاری، نبود تسهیلات تعلیمی، طبی، نداشتن سرپناه و غیره باعث شد که تعداد زیادی از مهاجرین ما از پاکستان و ایران برنگردند، نه تنها اینکه مهاجرین اصلی یی که در زمان تجاوز روسها و حاکمیت حکومت کمونیستی مهاجر شده بودند، نتوانستند به کشور برگردند، بلکه خیلی دیگر از هموطنان ما هم به صف مهاجرین پیوستند. هر گاه این کشورها بنابر دلیلی گفته اند که دیگر مهاجرین افغان را از کشور شان اخراج میکنند، فغان دولت ناتوان افغان بلند شده است؛ زیرا دولت نه برنامه یی برای برگشت این مهاجرین داشت و نه هم توانمندی اسکان آنها را داشت. بناء از طریق کمیساریای مهاجرین ملل متحد بالای این کشورها فشار انداخته است که مهاجرین افغان را اخراج نکنند و آن کشورها هم از کمیساریای مهاجرین ملل متحد (U.N.H.C.R)به این بهانه امتیازی دریافت کرده اند.

اما آنعده مهاجرین که به کشور های غربی رفتند چه درآغاز به گونهٔ انفرادی و چه هم با خانواده های شان داستان آنها از مهاجرینی که درمورد شان حرف زدیم جدا بود، زیرا آن کشورها در مورد مهاجرین قانون بخصوص خود را داشتند وبعد از یک مدت مهاجرین را که شرایط قانونی آنها را پوره میکرد به تابعیت کشور خود می پذیرفتند و اکنون هم این قانون شان پا برجاست. پس این مهاجرین خواسته باشند یا نباشند دو تابعیته شدند. اکنون برگشت این مهاجرین خیلی دشوار می نماید. من فقط یکی از دوستان را می شناسم؛ که از امریکا دکتورا هم داشت و باخانوادهٔ خود پذیرفته هم شده بود ولی دوباره به آغوش وطن برگشت. شاید چنین خانواده ها خیلی اندک و بشمار انگشت باشد؛ ولی دیگران که با امکانات غرب و تسهیلات غرب عادت کردند، دیگر با وطن خدا حافظی کردند. ما وزرایی داشتیم، که از غرب آمدند، وقتی از وزارت کنار رفتند دوباره به آغوش پررنگ و بوی غرب برگشتند و در زمان وزارت هم حاضر نشدند خانواده های خود را به آغوش وطن برگردانند. تجربه نشان داد، آنانی که با عمر کمی پیشرفته به غرب رفتند طبعاً چون در افغانستان زاده شده بودند و بیشتر شان در اینجا تحصیل کرده بودند و یا در ادارات ملکی یا نظامی کشور کار کرده بودند محبت وطن را کاملاً فراموش نکردند اگر کردند تعداد آنها شاید خیلی کم باشد. ولی آنانی که در عمر طفولیت به غرب رفتند و در آنجا بزرگ شدند و یا اطفالی که درغرب زاده شدند و بزرگ شدند.

طبیعی است که حتی با زبان خود نا آشنا شدند بناء این یک مشکل بسیار عمده است که دامنگیر افغانان شده است. افغانستان کشوری است که در دنیا بیشترین مهاجرین را دارد و مسألهٔ هجرت تنها دامنگیر افغانستان نیست بلکه خیلی از کشورهای دنیا با آن مواجه اند. ولی این مهاجرین بخصوص مهاجرینی که از کشور های اسلامی به کشور های غیر اسلامی مهاجر میشوند خواهی نخواهی آهسته آهسته تحت تأثیر فرهنگ آنها میایند. خیلی از مهاجرین افغان که سالیانی را در ایران سپری کرده اند وقتی صحبت می کنند آدم نمی تواند فرق بگذارد که افغان است یا ایرانی.

به همین ترتیب آنانی که به پاکستان مهاجر شده اند تأثیر لهجهٔ زبان پشتوی آن دیار درتکلم شان محسوس است. هکذا ترتیب تأثیرات فرهنگی معضل دیگری است.

اما مهمتر وقابل توجه تر وابستگی های سیاسی است که خواهی نخواهی تعدادی آنرا پیدا میکنند. گرچه درین رابطه نمیتوان حکم کلی نمود، زیرا خیلی از کسانی که نه به غرب رفته اند و نه درغرب زندگی کرده اند وقتی وابستگی پیدا کرده اند دیگر از ارزشهای کشور خود رو برتافته اند و با منافع کشور خداحافظی کرده اند؛ ولی آنانی که به فرمایش بیرونیان به وزارتها میرسند طبعاً برنامه های آنها را به پیش می برند و بخاطر خوش ساختن دوستان بیرونی تن به هرگونه ذلت میدهند.

توجه کنید همهٔ مردم افغانستان نه عضو تنظیم القاعده اند و نه هم وابستگی به گروههایی دارند که غربیان آنها را تروریست نامیده اند ولی چرا برای عده یی اصطلاح دوست و برای عده یی اصطلاح دشمن به کار میرود؟ خداوند (ج) انسان را با یک سلسله خصوصیات فطری آفریده است، از جمله آزادی حق فطری هر انسان است و هرکس حق دارد وعلاقه دارد درچوکات قوانین نافذهٔ کشورش آزاد باشد، دفاع از استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی و منافع ملی خواست هر انسان با ضمیر و باوجدان است، ولی چرا اگر کسی ازین حقوق خود به دفاع برخاست به نامهایی یاد میشود که از ان بوی مجرم بودن بمشام میرسد، ولی آنانی که نه پروای منافع ملی و حاکمیت ملی خود را دارند و نه پروای استقلال را دارند و نه هم تمامیت ارضی خود را و بجای حاکمیت ملی و منافع ملی کشور خود منافع دیگران را محترم میشمارند آنها افراد متمدن خوانده میشوند و برای آنها جامعهٔ به اصطلاح مدنی میسازند، به آنها بودجه میدهند و در راستای منافع کشور های کمک کننده کارکنند.

غرب بعد از ۲۰۰۱ تعدادی از افراد وابستهٔ خود را از راه سیاست به قدرت رسانید. تعدادی را درجامعهٔ مدنی جا بجا کرد، به تعدادی دستور ساختن احزاب جدید را داد که درس دموکراسی غربی را درکشور ما زمزمه کنند و در یورش فرهنگی، غرب را علیه فرهنگ ما یاری رسانند. مگر ایجاد ده ها رسانهٔ تصویری و ده ها رسانهٔ صوتی و ده ها و صدها رسانهٔ چاپی فقط بخاطر تربیت سالم اطفال وجوانان ما بود؟ هکذا ده ها مورد دیگر، بناء غرب علاوه بر آنکه میخواهد درسیاست ما رخنه کند، در فرهنگ ما رخنه کند، در اقتصاد ما رخنه کند و در نظام تعلیمی ما رخنه کند. میخواهد کنترول همهٔ امور ما را در دست داشته باشد و نسلی را تربیت کند که درفردا همه به یک‌صدا ترانه‌های غرب‌را زمزمه کنند؛ ولی خواب کشور های استعماری همیشه به مذاق آنها تعبیر نه یافته است.

امریکا ته د افغانستان جګړه ...

د براون پوهنتون د واټسن د نړیوالو څېړنو د انستیتوت د جګړې د لګښت د پروژې پر اساس د عراق په جګړه کې امریکا یو تریلیون او ۷۰۰ ملیارد ډالره لګولي دي.

به همدې حال کې فینشل ټایمز ورځپاڼه وايي چې د امریکا متحد ایالتونه به په افغانستان کې څو سوه ملیارد ډالره نور هم ولګوي.

ټول محارب امریکایي پوځیان به په راتلونکو څو ورځو کې له افغانستانه ووځي خو ۱۰۸۰۰ به د روزنې لپاره پاتې شي.

د امریکا جنګي مصارف به په عراق او سوریه کې زیات شي. د امریکا کانګرس د اسلامي دولت د وسله والې ډلې پر ضد د جګړې لپاره تراوسه ۵ ملیارد ډالره تصویب کړي دي.

سپینې ماڼۍ د اسلامي دولت د وسله والې ډلې پر ضد د ۵ ملیارده او شپږ سوه ملیون ډالرو غوښتنه کړې وه.

تحقیق محکمه بین‌المللی در باره ...

بین‌المللی مورد بررسی قرار میگیرد؛ روش‌هایی که به شدت شبیه به همان روش هایی است که توسط سازمان استخباراتی امریکا (سیا) مورد استفاده قرار می‌گیرد. این روش‌های شکنجه شامل تجاوز جنسی، شوک الکتریکی، بی‌خوابی اجباری و سایر موارد می‌شود. روزنامه ایندیپندنت نوشته است، در یکی از همین دوسیه ها، یک افسر پولیس عراق پس از آنکه سربازان بریتانیایی وی رامجبور کردند تا سرش را چندین بار داخل یک ظرف پر از آب یخ کند، جان داد. همسر و فرزندان این افسر پولیس عراقی شاهد مرگ وی بودند. براساس اسناد به دست آمده، بیش از ۷۰ مورد دوسیه بین سالهای ۲۰۰۴ تا ۲۰۰۸ وجود دارد که پوشاندن روی متهم توسط یک پارچه لباس نیز به عنوان شکنجه محسوب میشود، زمانی که با هدف بی‌خوابی اجباری برای بازجویی مورد استفاده قرار میگیرد که همین امر باعث سردرگمی، گیجی، انزوا و ترس متهم می شود.

زه خپل ولس ته ډاډ ورکوم چې ...

(د لومړي مخ پاتې برخه)

... لوړو ژورو کې یې دافغانستان ځوان نسل ته د اسلامي ذهنیت ورکولو او دحزب اسلامي د برنامو او دخاصو پروګرامونو د رسولو او بالاخره د روسانو د یرغل او دهغوی دشومو اهدافو په رسوا کولو، مجاهدینوته داستقامت ورکولو، د شوروی انحاد داشغالګرو ځواکونو په مقابل کې، مجاهدینو او مبارزینو ته د لوړ مورال په ورکولو، د افغانستان ځوان نسل د افکارو د سمولو، د روسانو د اختناق، ظلم، بربریت، وحشت، د (کې جي بي) او خاد په زندانونو کې د افغانستان مسلمان ملت پر ځوانانو، علماو، د پوهنتون پر استادانو، او پر ټولو افغانانو باندې چې څه تیرېدل له هغو ټولو نه د خبرولو په برخه کې لوی رول لوبولی دی.

له هغې ورځې راپدېخوا چې دافغانستان حکومت له ناټو او امریکا سره تړونونه لاسلیک کړي دي امنیتي پېښې زیاتې شوي دي؛ خو په دې باور لروچې دافغانستان امنیتي ځواک، ملي اردو، پولیس او دملي امنیت ځواکونه دومره قوي شوي دي چې ددښمن ټول پلانونه شنډ او غابښ ماتوونکي ځوابونه ورته ورکړي دي، تاسې وینئ چې په دې وروستیو کې کشفي ارګانونو څومره تخریبکاران نیولي او د ویجاړۍ هڅې یې شنډې کړي دي، ولې څومره کار چې په کارو هغه رښتیا تراوسه نه دی شوی چې هغه دکابینې جوړول وو، خو زه خپل اولس ته ډاډ ورکوم چې په دې کې هم ډېر پرمختګ شوی دی او ډېر ژر به په کار پوه او تجربه لرونکي کسان په دندو وګمارل شي، بل کوم کار چې په دې مودو کې وشو هغه دټرانزیټ مسئله ده چې په تیرو ۱۳ کلونو کې نه وحل شوی: خو اوس داستونزه له ګاونډي هیواد پاکستان سره حل شوه او ددې ترڅنګ دتاجاپي مسئله هم حل شوه، بل طرف ته دلندن په کنفرانس کې نړۍ والو یوځل بیا هغه وعدې چې پخوایې کړې وې یوځل بیا خپله ژمنتیا وښودله، بله داچې ولسمشر او اجرائیه رییس ټولو نړیوالوته وښودله چې له نړۍ والوسره د متقابله احترام پر روحیه اړیکې غواړي.

د اصلاحاتو په لاره کې هم ډېر ګټور کارونه ترسره شوي، مثلاً داطلاعاتو او رسنیوته دلاس رسی او دنفوسو داحوال قانون توشیح کول، داټول دلویو لاسته راوړنو په توګه یادولای شو.

پوښتنه: جناب انجنیر صاحب! د تابعیت په تذکره کې دافغان کلمې دلرې کیدو پرسر په رسنیو کې ډېر بحثونه راپورته شوي په داسې حال کې چې دافغانستان دنوي اساسي قانون په څلورمه ماده کې دافغان کلمه پرهر فرد پورې اطلاق شوې او داسې په کې راغلي چې دافغانستان هیڅ فرد دافغانستان له تابعیت څخه نه محرومیږي، فکر نه کوئ چې دا به په افغانستان کې دقومونو ترمنځ بیا یولړ ستونزې راپورته کړي؟

ځواب: دافغان کلمه دتابعیت له تذکرو څخه نه ده ایستل شوې بلکه، دتذکرې له جلد څخه ایستل شوې او دننه په کې ځای پرځای شوې، په ولسي جرګه کې هم په دې مسأله خبرې شوې وې چې دشخص اړین معلومات به په چپ کې اچول کیږي، خو دا چې دافغان کلمه دی له تذکرې څخه وایستل شي او که نه دا بیله موضوع ده.

غواړم یوځل بیا یادونه وکړم چې هر څوک په افغانستان کې اوسیږي او دافغانستان تر اساسي قانون لاندې ژوند کوي افغان دي او له دې څخه هیڅوک هم انکار نه شي کولای، ولې داسلام له نظره ټول مسلمانان سره ورونه دي او قومونه او ملیتونه یوازې د پیژند ګلوۍ لپاره پیدا شوي دي.

پوښتنه: داسې ویل کیږي چې پاکستان ته دسفر پرمهال افغان ولسمشر اشرف غني هغه غوښتنې چې پاکستان یې په تیرو دیارلسو کلونو کې غوښتنه کوله منلې چې دهغو له جملې څخه یې دافغان پوځ ښوونه او روزنه ده چې په پاکستان کې به ورکول کیږي،

ځواب: پاکستان زموږ دوست او ګاونډی هیواد دی، افغانستان غواړي چې دغه وضعیت لومړی نورمال شي او بیا وروسته یې د وروګلوۍ حالت ته بوزي، پاکستان اوافغانستان دمخالفتونو په پرتله د دوستۍ فرصتونه ډېر لري چې باید دواړه هیوادونه تري ګټه واخلي، زما پر اند د افغانستان او پاکستان هیوادونو ترمنځ اوسنی وضعیت هغې کچې ته نه دی رسیدلی چې پرې اعتماد ونه شي خو که دا وضعیت تغیر وخوري افغانستان دې ته ارتیا لري چې خپل ځوانان پههرهیواد کې وروزي،

پوښتنه : ځینې خلک ویره لري چې د ملي یووالي په حکومت کې دواړه ټیمونه په خپلو کې سره ستونزې لري او نه شي کولای دخلکو ستونزه حل کړي ستاسو نظر څه دی؟

ځواب : که فرض کړو چې دواړه ټیمونه په خپلو کې ستونزې ولري؛ نو طبعاً به مشکلات زیاتیږي، خو هغه اختلافونه چې د کابینې په اړه د دواړو ټیمونو ترمنځ وو حل شوي وي انشاء الله داهرڅه به په خپل وخت حل کېږي.

پوښتنه: ستاسو له نظره دملي وحدت حکومت د وسله والو مخالفو ډلو سره دجوړ جاړي او سولې لپاره څومره ژمن دي؟

ځواب : که په یاد مو وي د کمپاینونو په جریان او له هغې وروسته د دواړو ټیمونو مشرانو ویل چې سوله دهیواد د مهمو لومړیتوبونو څخه ده، نو ځکه د سولې راوستلو ته دواړه ټیمونه ژمن دي، دواړه مشران سوله دخلکو او هیواد په ګټه بولي خو داچې د نظام مخالفین به ترکومې اندازې ددوی دغه آواز او دعوت ته لبیک ووایي (هغوي پورې اړه لري)، سوله یو طرفه نه راوستل کیږي، جناب حامد کرزی هم دخپل واکمنۍ پروخت دسولې لپاره ډیرې هلې ځلې او منډې وکړې، ډېر غږونه یې اوچت کړل؛ خو دا چې داغږ یو طرفه و کومه نتیجه یې نه درلوده، که چیرې دافغانستان اوسني حکومت مسلح مخالفین دسولې لپاره اماده ګي ولري؛ زه باور لرم چې د ملي وحدت حکومت سوله دهیواد د مهمو لومړیتوبونو څخه بولي او دې ته حتماً ژمن دی چې دا باید ترسره شي.

پوښتنه : ویل کیږي چې په راتلوونکي کابینه کې هغه وزیران نه ګومارل کیږي چې پخوا کلونو کې دوزیر په توګه دنده ترسره کړي وي دا څومره حقیقت لري؟

ځواب : تر اوسه پورې خو یوازې د تیرو وزیرانو خبره شوې ده او لومړی کار هم دکابینې تشکیل او د وزیرانو ګومارل دی، دا چې هم دغه فارموله به دوالیانو او رئیسانو په حصه کې هم تطبیق کیږي که نه دامعلومه نه ده، والیان په دولت کې مستقل نماینده ګان دي، خو رئیسان بیا مستقل نه دي، زه په مجموع کې شخصاً له دغه فارمول سره موافق نه یم، په تیره کابینه کې ډېر پاک، د ملت ګټوته ژمن او له الله نه ویریدونکي وزیران موجود وو، کیدای شي دا ډېر اوږد بحث وغواړي خو زه دلته د بیلګې په توګه صرف یو شخص یادوم او وایم چې په کابینه کې نور هم داسې افراد موجود وو، مثلاً دحزب اسلامي رئیس عبدالهادي ارغندیوال (داقتصاد پخوانی وزیر) چې څومره منظم کار کړی دی؛ هم د افرادو په ټاکلو کې او هم په اقتصادي او مالي لحاظ، د پاکوالي له نظره، شاید موږ په ډېرو کابینو کې دغه شان کسان کم پیدا کړای شو، په مجموع کې دغه ډول فارمول چې په هغه کې زموږ او ستاسې په یوه عامیانه اصطلاح باندې وچ او لانده ګډ سوځي؛ دا فارمول: منصفانه فارمول نه دی، په هر حال، که ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله د راتلونکې کابینې خیر په همدې کې وینې ښه خبره ده، خو که دا صرف دوالیانو په رابطه تطبیق شي، نور د رئیسانو په رابطه یې تطبیقول په هیواد کې ګډوډي رامنځ ته کوي.

پوښتنه: تېر ولسمشر دسلو په شاوخوا سالاکار وزیران درلودل نوي ولسمشر او اجرائیه رئیس ددې سلا کارو وزیرانو په اړه څه پریکړه کړې؟

ځواب : اول د څو سشاور وزیرانو نوم ورکول، فقط هغه کسان چې یقیني کاري توانمندي او د ملک لپاره یې دخیر، فلاح او بهبود، فکر، طرحه او نقشه ورسره وه؛ تیر ولسمشر هغوی په یو غیر فعال حالت کې ساتلي وو، باید دهغوی له فکره، دهغوی له استعداده او هغوی له ظرفیته رښتیا استفاده شوې وای، زه په دې باور لرم هغه سل، یا له سلو زیات او یا له سلو کم، کوم مشاور وزیران چې جناب حامد کرزي درلودل که هغوی یې په کار اچولي وای؛ ملک ته به یې ډېر خیر رسولی و، ولې فقط هغوی مقرر وو، دفترونه یې ورکړي وو او په کال کې به په ندرت سره یو یادوه خلې راوغوښتل شوی: نه داچې له دوی مشورې واخلي، بلکې خپله به یې یو سلسله موضوعاتو ته وروړل. جناب ډاکټر صاحب اشرف غني دهغوی په رابطه ویلي دي، چې دا ټول نور مشاور وزیران نه دي، داچې له هغه جملې څخه به څومره جذب شي، یا دمشاور وزیر او یا په نورو دندو کې، دا بېله مسئله ده، ولې کوم شي چې په یقین سره ویلي شو هغه داچې دومره ډېر مشاور وزیران دیو رئیس جمهور لپاره بکار دي او نه یې په کار اچولي شي، دهغوی څخه باید د ملک په نورو کارونو کې، په نورو وزارتخانو کې، د مشاور په حیث نه؛ بلکې په اجرائي، قضائي، څارنوالي او نورو اموروکې دې چې ددوی له تجربو او تحصیل سره مطابقت لري ترېنه کار واخیستل شي.

په پای کې مو ټولو افغانانو په تیره بیا ځوانانو او علماوته پیغام دادی چې، د ځوانانو او علماو مکلفیت او مسؤولیت د انتخاباتو په دوران پورې اړه نلري زمونږ مستقل، دوامداره او همیشني مسؤولیت دادی چې دځوانانو تربیه دخلکو خدمت او په خپله داسې اخلاق او عمل ولرو چې زمونږ داخلاقو اوعمل په واسطه، د اسلام او افغانیت اصولو ته جلب شي امید مو دادی چې په اسلامي علم او افغاني پوهې او فکري زیور ځانونه ملبس کړو او ددې هیواد خدمت او دځوانانو تربیه خپله دنده وبولو.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
د هیات تحریر تر خارنې لاندې
د دفتر شمېره: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت پر وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته زیان ونه رسي
- رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي
- بوازې سرلیکنه د شهادت اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

مدعیان حقوق بشر، خود ناقضان حقوق بشر اند

از منابع خارجی — تهیه و ترتیب: فرحتیار

زندان گوانتانامو، نام زندانی است در خلیج گوانتانامو، واقع در جنوب شرقی جزیره کیوبا که در اختیار اردوی امریکا قرار دارد. این زندان در سال ۲۰۰۱ میلادی، زیر نظر نیروی دریایی امریکا در خلیج گوانتانامو ایجاد شد و افرادی که متهم به ارتباط با فعالیت های ضد منافع امریکا در خارج از خاک امریکا می باشند به این زندان منتقل می گردند.

گوانتانامو دارای سه کمپ به نام های کمپ دلتا که شامل کمپ (اکو) نیز می شود،کمپ (ایگوانا) و کمپ (ایکسری) است. با این وجود، بر اساس گزارش اسوشیتیدپرس،کمپ دیگری نیز به نام کمپ شماره هفت وجود دارد که بیشترین شکنجه های جسمی و روحی با زندانیان در انجا اعمال می شود.

(ویلیام هینز) مشاور عمومی پنتاگون اعلام کرده بود که این سازمان آماده همکاری با پنتاگون در بازجویی از زندانیان است.

ویکی لیکس با انتشار بیش از ۷۰۰ سند در رابطه با زندانیان گوانتانامو از اشتباه در تشخیص هویت افراد در زمان گرفتاری، بازداشت، گردآوری نادرست اطلاعات در مناطق جنگی و انتقال برخی از افراد بی گناه به این زندان و حبس بی مورد پرده برداشت. تعدادی از این اسناد براساس دست نوشته های مسئوولان تحقیق و محافظان زندان گوانتانامو حقایق بیشتری را در مورد گرفتاری، حبس، شکنجه و در کل، زندان مذکور افشاء نموده و نگرشی جدید را درباره وضعیت زندانیان این زندان افشا کرد.

در حال حاضر بیشتر از۱۶۷ تن تحت بدترین شرایط روحی و فزیکی و بعضاً در قفس های باز، در فضای آزاد و تحت بد ترین شرایط جوی، قطع تماس با دنیای خارج و در انزوای کامل در زندان گوانتانامو نگهداری می شوند که گفته می شود از این تعداد فقط ۶ نفر از زندانیان گوانتانامو اتهام هایشان روشن است و اکثریت آنها بدون وجود اتهام مشخص و دسترسی به وکیل در حبس به سر می برند. عساکر و محافظان این زندان اجازه دارند تا از هر روش و طریقه یی برا ی شکنجه و رفتارهای غیراخلاقی مثل برهنه کردن زندانی ها، ترساندن آن ها با سگ، اهانت به مقدسات و غیره استفاده کنند.

گفتنی است در این زندان از انواع مختلف شکنجه ها استفاده می گردد که به گفته بعضی از افراد که مدتی را در زندان گوانتانامو گذرانده و اتفاقات تلخی را در آن تجربه کرده اند، به برخی از این نوع شکنجه ها اشاره می شود.

ضرب و شتم زندانی ها تا سرحد فلج شدن، تهدید و ترساندن زندانیان به آزار افراد خانواده، عدم عرضه خدمات مناسب طبی تا حدی که زخم های زندانی وخیم گردیده و حتا دچار کرم خورده گی می شود، استفاده از بوی تند و زننده به منظور آزار و اذیت زندانیان، انداختن روشنی بسیار شدید به چشم زندانی، برهنه کردن بدن زندانی، قرار دادن زندانی در اتاق سرد و مرطوب با پای برهنه، رها کردن زندانی برای روزها بدون هر گونه آب و غذا و اجازه ندادن برای رفع حاجت و سایر انواع شکنجه های روحی و جسمی توسط وسایل برقی.

اینها صرف بخشی از معلوماتی است که توسط وکلای زندانیان به بیرون درز کرده است اما احتمالا انواع مختلف شکنجه های بیشتری تاکنون بر زندانیان اجرا و عملی شده است.

برخورد غیر اخلاقی و غیر قانونی محافظان و عساکر زندان گوانتانامو در مقابل زندانیان یک نمونهء جدیدی از تشدد و تعرض به حقوق افراد اسیر و در بندی است که از هرگونه آزادی، اختیار و انتخاب محروم هستند و سخت ترین مجازات و شکنجه ها در حق شان روا داشته می شود.

با در نظر داشت همین روش های غیر انسانی و غیر اخلاقی زندان بانان گوانتانامو و اجنت های سازمان استخباراتی سیا اخیراً مجلس سنای امریکا راپور ۴۹۹ صفحه یی شکنجهٔ زندانیان را توسط سازمان استخبارات مرکزی (سیا) نشر نموده است. در این گزارش شش هزار صفحه یی که در حدود ۵۰۰ صفحه آن منتشر شده پرده از جنایاتی بر میداردکه سازمان سیای امریکا از سال ۲۰۰۱ کسانی را که در کشور های مختلف به اتهام اقدام به اعمال تروریستی دستگیر کرده بود، شکنجه نموده است.

ضرب و شتم، لت و کوب، تهدید به تجاوز، تهدید به قتل، بیدار خوابی های متواتر، عدم اجازه استخدام وکیل برای متهمان از جمله شکنجه هایی است که ماموران سیا در حق محکومان روا داشته اند. تکان دهنده تر اینکه این نوع شکنجه ها در زندان های سیا از جمله زندان گوانتانامو، بگرام، و ابو غریب در خصوص کسانی صورت گرفته است که اغلب آنها مسلمان هستند.

مدافعان حقوق بشر چنین کشوری را مهد حقوق بشر می‌دانند و آن را الگوی حقوق بشری خود قرار می دهند و در رسانه‌هایشان چنین وانمود می کنند که حقوق بشر در امریکا و کشورهای متحدش، چنین و چنان است با تاسف که مدافعان حقوق بشر خود ناقضان حقوق بشراند.

همزمان با نشر این گزارش، روزنامه الاخبار لبنانی با اشاره به این گزارش مجلس سنای امریکا در باره شکنجه مظنونان به دست عناصر سازمان «سیا»، نوشته است که سازمان سیا، وحشی تر از آن است که تصور می‌شود.

الاخبار همچنان می نویسد: می توان گفت که سازمان مرکزی استخباراتی امریکا (سیا) وحشی‌تر از آن بود که گفته می شد. این سازمان در بازجویی ها از راه هایی استفاده نکرده است که به حصول اطلاعات مفید منجر شود. این نتیجه گزارشی است که کانگرس امریکا آنرا منتشر کرده است.

این گزارش که انتظار برای انتشار آن طولانی شده بود، درباره شیوه های قهرآمیز بازجویی است که سازمان (سیا) پس از حوادث ۱۱ سپتمبر سال ۲۰۰۱ و به هنگام ریاست جورج بوش پسر، (رییس جمهور پیشین) علیه ۱۱۹ بازداشتی به اتهام ارتکاب جرم‌های تروریستی به کار گرفته شده است.

این در حالی است که ۲۶ نفر از ۱۱۹ نفر به صورت اشتباهی بازداشت شده اند و یک نفر آنان کشته شده است.

در همین ارتباط، سازمان عفو بین‌الملل خواستار مجازات عاملان این اتفاق در (سیا) و همچنین خواستار تحقیق و بررسی از جورج بوش رییس جمهوری سابق امریکا شده است.

(کنیث راث) مدیر اجرایه دیدبان حقوق بشر نیز گفت که با نشر این گزارش، (اینکه سازمان سیا دخالت خود در شکنجه را که اقدامی مجرمانه و توجیه نشدنی است، تکذیب می‌کند، دروغ محض دانست).

جان کری وزیر خارجه امریکا در تماسی با «دایان فاینشتاین رییس کمیته اطلاعات مجلس سنا، هشدار داد که انتشار این گزارش در این زمان ممکن است اقدامات خشونت بار جدیدی را در

خاورمیانه علیه امریکا و منافعش به بار آورد.

گزارش منتشر شده فقط بخشی از ۶ هزار صفحه یی است که هنوز بخش های زیادی از آن محرمانه باقی مانده است.

مخالفان و حزب مخالف در کانگرس امریکا، مقامات سیا را به گمراه کردن دولت امریکا و دادن اطمینان غلط در مورد اقدامات شان متهم نموده می گویند که شکنجه زندانیان هیچ کمکی به پیشگیری از اقدامات تروریستی کرده نمی تواند.

همزمان با نشر این گزارش محمد اشرف غنی، رییس جمهور افغانستان در نشست خبری درباره گزارش کمیته اطلاعاتی مجلس سنای امریکا مبنی بر شکنجه زندانیان در مراکز شکنجه مربوط به دستگاه استخباراتی امریکا، گفت: ((اصول قبول شده حقوق بشر قانون امریکا، از جانب شماری از ماموریـن سی آی ای زیر پا گذاشته شده است و دولت افغانستان آن را به شدیدترین لحن محکوم می کند، چنین اعمالی هیچگونه توجیهی ندارد و اعمال خبیثه می باشد. اشرف غنی همچنان تاکید کرد که ما می خواهیم شمار افغانهای زندانی که مورد شکنجه قرار گرفته اند، معلوم شود تا برای اعاده حیثیت و حقوق شان اقدام کنیم)).

آرزومندیم تا تمام جوانان ...

...هر چه بیشتر انکشاف نموده و جوانان با احساس ما به زیور علم و دانش آراسته گردند تا مصدر خدمات شایسته به وطن و جامعه خویش گردند.

موصوف همچنان به موسسان مکاتب گفتند که شما کیفیت تعلیمی را بلند ببرید، من در کنار شما ایستاده ام و از هیچ نوع کمکی در این قسمت دریغ نخواهم کرد.

در این نشست قاضی غلام سخی «اقبال» موسس مکاتب خصوصی بین المللی کابل پیرامون نصاب تعلیمی معلومات جامع ارایه نموده گفت: فعلا ما به پالیسی سازی آغاز نموده ایم، نصاب تعلیمی ترتیب می دهیم، سعی می نماییم در این راستا تمام رهنمود های اسلامی و کلتوری و فرهنگی افغانستان را مد نظر بگیریم.

همچنان محمد یار «ستانکزی» موسس مکاتب و دارالمعلمین کاینات ضمن صحبتی گفت:

برای کیفیت خوب مکاتب یک بورد تدریسی ترتیب نموده ایم، هر مکتب کوشش می کند که کیفیت تعلیمی خود را بلند ببرد، کتاب های درسی تالیف نموده ایم، سیستم نصاب تعلیمی در تمام مکاتب قسمی عیار شده که مورد پذیرش وزارت معارف نیز قرار گرفته است. اگر یک شاگرد ما سه پارچه بگیرد به عین صنف در مکتب دیگر پذیرفته می شود. ما کمیت را تیار نموده ایم حالا در بخش کیفیت سعی می نماییم.

وی اضافه کرد فعلا درحدود ۱۷۰تا ۱۸۰ مکتب به همکاری مادی و معنوی شما حاضر و آماده هستند و حمایت خود را از شما اعلام می‌دارند. شما به حیث بزرگ و رهبر ما بالای ما امر کنید ما به اطاعت از اوامر شما آماده هستیم.

در اخیر این نشست اسدالله «چکری» یکی از اعضای سابقه دار حزب اسلامی افغانستان به نماینده گی از اشتراک کننده گان این نشست از الطاف و توجهات معارف پرورانه رییس حزب اسلامی افغانستان در بخش تعلیم و تربیه جوانان اظهار سپاس و امتنان نموده، زحمات و کارکرد های ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان را ستود.

وی همچنان وعده هر گونه همکاری‌را با مقام رهبری‌حزب داده وآماده گی‌دانش آموزان، استادان و اهل معارف را در تعمیل اوامر و رهنمود های مقام رهبری حزب اعلام نمود.

هکذا داکتر چکری اظهار کرد که استادان، شاگردان و منسوبان بخش های تعلیمی به پاس خدمات ارزنده و صادقانه شما در دوران ماموریت تان به حیث وزیر اقتصاد دولت جمهوری اسلامی افغانستان در نظر دارند محفلی را به منظور ارج گذاری و تمجید از کارکرد ها و خدمات شما دایر نمایند، امید است این پیشنهاد اهل معارف را پذیرا شوید.

در مقابل برادر ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان با تواضع و فروتنی همیشگی از این پیشنهاد نخبه گان تعلیم و تربیه تشکری نموده فرمودند:

«من مسوولیت ایمانی و وجدانی خود را در مقابل وطن و مردم شریف خود انجام داده ام، همین که مردم از کارکرد های من به نیکویی یاد می کنند برای من مایه افتخار است. همسان طوریکه زنده‌گی یک امانت است وما با کاروان حیات یکجا روان هستیم، مسوولیت ها و امور اجتماعی نیز برای انسانها یک امانت است که باید با صداقت و امانتداری ایفا گردد.

آنچه را که من در دوران ماموریت خود به حیث وزیر اقتصاد انجام داده ام یک مسوولیت ایمانی من بود، ایفای وظیفه قابل تمجید نیست. از پروردگار بی‌نیاز شاکر و راضی هستم که وظایف محوله خویش را با اخلاص و صداقت انجام دادم که مردم شریف و قدردان افغانستان از من به نیکویی یاد می نمایند».

د کابل بانک پوروړونه به ډېر ...

د افغانستان بانک او مالیې وزارت وایي، له کابل بانکه د یاد بانک د سهم لرونکو په لاس د څه باندې نهه سوه میلیونو ډالرو ایستل، د دې بانک د سقوط سبب شول.

د پخواني جمهوررییس حامد کرزي په حکومت کې د دې بانک د دوسیو څېړلو ته یوه ځانګړې محکمه جوړه شوه چې د کابل بانک پخواني رئیس او مرستیال یې د سلګونو ډالره په ورکړه او د بند په تېرولو محکوم کړل، خو شاوخوا دوه میاشتې مخکې جمهور رئیس اشرف غني بیا د دې د دوسیو د څېړلو حکم ورکړ. د افغانستان سترې محکمې هم په دې وروستیو کې د کابل بانک په قضیه کې د تورنو کسانو په اړه وروستی پرېکړه وکړه او لوېې څارنوالۍ ووېل چې عملي به یې کړي.